(c) ketabton.com: The Digital Library



څلورم:په یوه مسلکي ښوونځي کې 2680 زده کړي دي، له دې څخه 480 په یوه سپورت کلوب کې دي. احتمالوالی څومره لوي دی، چې هغه زدهکړی(نازینه یا ښځینه)، چې تفریحمیدانکي ورسره مخامخ کیږو، په کوم سپورت کلوب کې نه دی؟

پنځم: د لوبو سترګي یو ځل غورځولو کې د لاندې پیښو لپاره احتمالوالی څومره دی؟

A : لږ تر لږه ۳ . B: د ۱ او ۶ ترمنځ C: لومړنی عدد

D: د درې څو واره یا څو ـله. E : جوړه عدد له ۴ لوي F: ۱ یا ۶.

## ځوابونه

## نسبي ډېروالی، احتمالوالی I

مفصل ځوابونه لومړی: الف-

| | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | Summe |
|---|---|---|---|---|---|---|
| نمرې | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | Summe |
| مطلق ډېروالی | 2 | 4 | 6 | 5 | 3 | 20 |

ب-

| نمرې | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 |
|---|---|---|---|---|---|
| نسبي ډېروالی | $\frac{2}{20}=0,1$ | $\frac{4}{20}=0,2$ | $\frac{6}{20}=0,3$ | $\frac{5}{20}=0,25$ | $\frac{3}{20}=0,1$ |

د نمرو وېشنه



(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| پ $P(1)=\frac{2}{20}=\frac{1}{10}=0,1$ | $P(2 \vee 3)=P(2)+P(3)$ $=\frac{4}{20}+\frac{6}{20}=\frac{10}{20}=\frac{1}{2}=0,5$ |

دويم:

د احتمالوالي د ډېروالي تشريحکونه يا څرګنده ونه يا معنا .

که د يوې تصادفي پيښې ټاکلې نتيجې احتمالوالی p لري، نو بيا تشخيص کوو، چې د يوه ستر ګڼ يا عدد n تجربو کولو وروسته به نتيجه نږدې n.p-ځله رامنځ ته شي.

د p=0,73او n=350 سره به n.p=350.0,73=255,5~256 شي.

که هرڅومره د تجربو تعداد ډېر شي، په همغه کچه به وړاندوينه پوره وي.

دريم: الف-

| | $M$ | $\overline{M}$ | Summe |
|---|---|---|---|
| $F$ | $1152-672=480$ | 1200 | 1680 |
| $\overline{F}$ | 672 | $1812-672=1140$ | 1812 |
| Summe | 1152 | $1200+1140=2340$ | 3492 |

ب-

| | $M$ | $\overline{M}$ | Summe |
|---|---|---|---|
| $F$ | $\frac{480}{3492}\approx 0,137$ | $\frac{1200}{3492}\approx 0,344$ | $\frac{1680}{3492}\approx 0,481$ |
| $\overline{F}$ | $\frac{672}{3492}\approx 0,192$ | $\frac{1140}{3492}\approx 0,326$ | $\frac{1812}{3492}\approx 0,519$ |
| Summe | $\frac{1152}{3492}\approx 0,330$ | $\frac{2340}{3492}\approx 0,670$ | $\frac{3492}{3492}=1$ |

پ-

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| P. O (لومړی کس) | $=\frac{1152}{3492}\approx 0{,}330$ |
| p.۲ ( کس FOR لري) | $=\frac{1680}{3492}\approx 0{,}481$ |
| p.۳ (کس ښځینه دی او FOR لري) | $=\frac{1140}{3492}\approx 0{,}326$ |
| p.۴ (کس نارینه او FOR لري) | $=\frac{480}{3492}\approx 0{,}137$ |

څلورم:

A : زده کوونکی په سپرت کلوب کې دی:

B: زده کوونی په سپورت کلوب کې نه دی.

$$P(B)=1-P(A)=1-\frac{480}{2680}\approx 0{,}82$$

احتمالوالی، چې یو زدهکوونکی سره د تفریح انګړ مخامخ شي، چې په سپورت کلوب کې نه دی نږدې 0,82 دی.

پنځم:

$$A=\{3;4;5;6\}\Rightarrow P(A)=\frac{4}{6}=\frac{2}{3}=0{,}\overline{6} \qquad B=\{2;3;4;5\}\Rightarrow P(B)=\frac{4}{6}=\frac{2}{3}=0{,}\overline{6}$$

$$C=\{2;3;5\}\Rightarrow P(C)=\frac{3}{6}=\frac{1}{2}=0{,}5 \qquad D=\{6\}\Rightarrow P(D)=\frac{1}{6}=0{,}1\overline{6}$$

$$E=\{2\}\Rightarrow P(E)=\frac{1}{6}=0{,}1\overline{6} \qquad F=\{1;6\}\Rightarrow P(F)=\frac{2}{6}=\frac{1}{3}=0{,}\overline{3}$$

## پوښتنې

## نسبي ډېروالی، احتمالوالی II

لومړی: د یوې لیسې د زده کوونکو یوځایوالي په هکله معلومات لرو.:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په برخه I کې 340 هلکان او320 نجونه دي. په برخه II کې 150هلکان او 190 نجونه دي.

الف- یو څلورساحه یي جدول یا تخته وکاږه او نسبي ډېروالی وشیره.

ب-په کوم احتمالوالي یو توکلي ټاکلی زده ککونکی یا زده کوونکې د برخې I دی؟

پ- په کوم احتمالوالي سره یو توکلي تاکل شوی کس په برخه II کې او یوه نجلۍ ده؟

دویم: د ګټلو احتمالوالی او دګټلو چانس.

الف- په یوه تصادفي ازمايښت کې د ګټنې لپاره چانس:

(۱)۱ و ۳ ته (۲) ۱ و۱ ته (۳) ۲ و ۳ ته (۴) ۴ و۳ ته (۵)a و b ته

په نومولو حالتونو کې د ګټلو احتمالوالی څومره لوی دی؟

ب- د یوې ګټنې لپاره احتمالوالی دی:

$$(1)\ \frac{1}{3} \quad (2)\ 0{,}6 \quad (3)\ 40\% \quad (4)\ \frac{3}{4} \quad (5)\ \frac{c}{d}$$

په هر یوه یوګوني حالت کې د ګټلو چانس څومره دی.

دریم: په یوه مرتبان کې درې تور، اوه شنه او شپږ سره غونډاري شتون لري یا اچول شوي دي. سپین یو غونډاری راوباسي.

الف – د کوم احتمالوالي سره دا غونډاری سور دی؟

ب – دکوم احتمالوالي سره دا غونډاری تور دی؟

پ – د کوم احتمالولي سره دا غونډاری سور نه دی؟

څلورم: په یوه ښوونځي ټولټال له 1250 ښځینه زده کوونکو او نارینه زده کوونکود ټول پوښتنې نتیجه وه، چې 4,4 % د نجونو او 6,4% د هلکانو لمبیدونکي نه دي. په ټولیزه توګه دا ورکړل شوه، چې په ښوونځي کې 5,2% نه لمبیدونکي دي.

الف- د ورکړ شوو داتا په لاس لرلو سره د مطلق ارزښت او نسبي ارزښت سره یو څلورسطحیز تختې جدول پیدا کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب- د کوم احتمالي سره دا توکلي ټاکلی کس یوه نجلۍ ده؟

پ- د کوم احتمالي سره دا توکلي ټاکلی کس یو هلک دی چې لمبیدلای شي؟

ج- د کوم احتمالي سره دا توکلي ټاکلی کس یوه نجلۍ ده، چې لمبیدلای نه شي؟

پنځم: په یوه مرتبان کې 3 سره، 5شنه او 4 تور غونډاري پراته دي. یو غونډاری راوستل کیږي.

لاندې پیښې تعریف دي:

A : یو شین غونډاری راوستل کیږي.

B : یو سور غونډاری راوستل کیږی.

C : راوستل شوی غونډاری شین ن ه دی.

D : راوستل شوی غونډاری سور نه دی.

E : راوستل شوی غونډار ی نه شین او نه سور دی.

الف- د ټول پیښنو احتمالوالی وشمیرئ.

ب- د پیښنو A او Bد ,یا , احتمالوالی وشمیرئ، دا پیښه په متني لیکلې بڼه څنګه ده؟

پ- د F د معکوس یا پهڅټ پیښې احتمالوالی وشمیرئ. دا پیښه په متن څنګه لیکل کیږي؟

## ځوابونه

## نسبي ډېروالی، احتمالوالی II

مفصل ځوابونه

لومړی:

الف-

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | J | M | Summe |
|---|---|---|---|
| SI | 340 | 320 | 660 |
| SII | 150 | 190 | 340 |
| Summe | 490 | 510 | 1000 |

| | J | M | Summe |
|---|---|---|---|
| SI | 0,340 | 0,320 | 0,660 |
| SII | 0,150 | 0,190 | 0,340 |
| Summe | 0,490 | 0,510 | 1 |

ب-  p(زده کوومکي په برخهI  کې)=0,66

پ- p (زده کوونکي په برخه  IIکې او يوه نجلۍ)=0,19

دويم:  الف- د ۱ و ۳ ته د د ګټي چانس کيدی شي سړی يو د مرتبان تجربه په خيال کې راوړي. په يوه مرتبان کې يو سور غونډاری(ګټنه) او ۳ تور غونډاري (بايلنه) پراته دي. فقط يو ځل راوستل کيږي. په دې حالت کې احتمالوالی چط يو سور غونډاری راووېستل شي 0,25  دی.

ب-

| د ګټي چانس | |
|---|---|
| د ګټي چانس ۱ و ۲ ته | $(1)\quad p=\frac{1}{3}=\frac{1}{1+2}\Rightarrow$ |
| د ګټي چانس ۳ و ۲ ته | $(2)\quad p=0{,}6=\frac{6}{10}=\frac{3}{5}=\frac{3}{3+2}\Rightarrow$ |
| د ګټي چانس ۲ و ۳ ته | $(3)\quad p=40\%=0{,}4=\frac{4}{10}=\frac{2}{5}=\frac{2}{2+3}\Rightarrow$ |
| د ګټي چانس ۳ و ۱ ته | $(4)\quad p=\frac{3}{4}=\frac{3}{3+1}\Rightarrow$ |
| د ګټي چانس c و d-c ته | $(5)\quad p=\frac{c}{d}=\frac{c}{c+(d-c)}\Rightarrow$ |

دريم:

s تور، b شين، r سور له دې سره E={s,s,s,b,b,b,b,b,b,r,r,r,r,r}

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$P(s)=\frac{3}{16} \qquad P(b)=\frac{7}{16} \qquad P(r)=\frac{6}{16}$$

الف-
$$P(r \vee b)=P(r)+P(b)=\frac{6}{16}+\frac{7}{16}=\frac{13}{16}=0,8125$$

ب-
$$P(s \vee r)=P(s)+P(r)=\frac{3}{16}+\frac{6}{16}=\frac{9}{16}=0,5625$$

پ-6/16 = P( r ) نه سور په دې معنا، چې د سره مخمخ یا معکوس پیښنه

$$\bar{P}(r)=1-P(r)=1-\frac{6}{16}=\frac{10}{16}=\frac{5}{8}=0,625$$

څلورم: الف-

| | |
|---|---|
| Summmeزیاتون یا جمعه<br>J ځوانان<br>M نجوني<br>S لمبیدونکي<br>Nنه لمبیدونکي | (see table below) |

| | M | J | Summe |
|---|---|---|---|
| S | | | |
| N | | | |
| Summe | | | 1250 |

5,2% په ښوونځي کې نه لمبیدونکي په معنا چې

65 =1250.0,052نه لمبیدو ونکي ښوونځي کې شته دی.

له دې سره په ښوونځي کې 1250-65=1185 لمبید

لمبیدنکیونکي په ښوونځي کې شتون لري.

په ښوونځي کې دې د نارینه او ښځینه زده کوونکو تعداد دې وي:x+y=1250

له دې سره په ښوونځي کې د نه لمبیدونکو تعداد 0,044x+0,064=65 دی(دوه کرښیز مsاوات د دوه مجهولو یا ناپیژندونکوسره)

(c) ketabton.com: The Digital Library



| x | y | |
|---|---|---|
| 1 | 1 | 1250 |
| $\frac{44}{1000}$ | $\frac{64}{1000}$ | $65 \mid \cdot 1000$ |
| 1 | 1 | $1250 \mid \cdot 44$ |
| 44 | 64 | 65000 |
| 44 | 44 | 55000 |
| 44 | 64 | $65000 \mid\mid - \mid$ |
| 44 | 44 | 55000 |
| 0 | 20 | 10000 |

$$20y = 10000 \mid : 20$$
$$\Leftrightarrow y = 500$$
$$44x + 44 \cdot 500 = 55000 \mid - 44 \cdot 500$$
$$\Leftrightarrow 44x = 33000 \mid : 44$$
$$\Leftrightarrow x = 750$$

په ښوونځي کې ۷۵۰ نجونې او ۵۰۰ هلکان شتون لري

د نجونو %4,4  نه شي لمبلی، دا نږدې 33=0,044 .750 دي، د هلکانو%6,4 نه شي لمبلی، دا  32=500.0,064 دي،

دا اوس د راته روښانه ارزښتونو سره به څلور تخته بيزه جدول پوره شي.

| | M | J | Summe |
|---|---|---|---|
| S | 717 | 468 | 1185 |
| N | 33 | 32 | 65 |
| Summe | 750 | 500 | 1250 |

| | M | J | Summe |
|---|---|---|---|
| S | $\frac{717}{1250} = 0,5736$ | $\frac{468}{1250} = 0,3744$ | $\frac{1185}{1250} = 0,948$ |
| N | $\frac{33}{1250} = 0,0264$ | $\frac{32}{1250} = 0,0256$ | $\frac{65}{1250} = 0,052$ |
| Summe | $\frac{750}{1250} = 0,6$ | $\frac{500}{1250} = 0,4$ | $\frac{1250}{1250} = 1$ |

ب -  د دې لپاره احتمالوالی P (A) = 0,6 دی، د يوه توکلي ټاکنې سره، چې يوه نجلۍ وټاکل شي.

پ- د دې لپاره احتمالوالی P (B) = 0,3744 دی، د يوه توکلي ټاکنې سره، چې يو هلک وټاکل شي، چې نه شي لمبيدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ت- د دې لپاره احتمالوالی P (C) = 0,0264دی، د یوه توکلي ټاکنې سره، چې یوه نجلۍ وټاکل شي، چې نه شي لمبیدی.

پنځم: الف- schwarz grün rotپه ترتیب له کیڼ ښي لور ته: سور، شین، تور

$$E=\left\{\underbrace{r;r;r;}_{3}\underbrace{g;g;g;g;g;}_{5}\underbrace{s;s;s;s}_{3}\right\}$$

$$P(A)=\frac{5}{12} \qquad P(B)=\frac{3}{12}=\frac{1}{4}$$

$$P(C)=1-P(\text{grün})=1-P(A)=1-\frac{5}{12}=\frac{7}{12}$$

$$P(D)=1-P(\text{rot})=1-P(B)=1-\frac{1}{4}=\frac{3}{4}$$

$$P(E)=P(\text{schwarz})=\frac{4}{12}=\frac{1}{3}$$

ب-

$$P(A\cup B)=P(A)+P(B)=\frac{5}{12}+\frac{1}{4}=\frac{2}{3}$$

راوستلی غونداری شین یا سور دی.

پ-

$$P(\bar{E})=1-P(E)=1-\frac{1}{3}=\frac{2}{3}$$

دپیښې متن: راوستلی غونداری تور نه دی.

## پنځم - دډېرپوړیز تصادفي ازماېښتونو احتمالوالی

### پنځم: ډېرپوړیز تصادفي ازماېښت

زیات وخت داسې تصادفي ازمایني کیږي، چې له یوه څخه زیاتو ازماېښتونو (تجربو)څخه منځ ته راغلې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ازماېښتونه د زیاتو یو په بل پسې یو پوړیزو ازماینتونو رایوځای شوي دي.
بیلګه یې د سیکې یا پیسې غورځول:
په همغه یا عین وخت کې دوه پیسې غورځول کیږي، چې دواړه مخونو څخه یې ممبرنښان په w او ګڼ یا عدد یې په z سره په نخښه کوو. ټولې ممکنه(شونې ) لاس ته راوړنې په لاسته راوړونډېرئ(په لاس ته راوړونست) کې رایوځای کیږي. S = { ww ; wz ; zw ; zz } .
احتمالوالی ساده ټاکل کیږي: (Laplace- Experiment د لاپلاس تجربه).

$$P(ww) = P(wz) = P(zw) = P(zz) = 0,25$$

اوس یوه پیسه پرلپسې اچول کیږي او ددې لپاره ونه دیاګرام کښل کیږي. احتمالوالی په همغه تار لیکل کیږي

| | |
|---|---|
| لاس ته راوړنې:S = { ww ; wz ; zw ; zz }<br>پیداېښتي یا طبیعي ده، چې همغه دي لکه په لومړۍ تجربه کې<br><br>د یوګونو احتمالوالی د تار په اوږدو احتمالوالي ضریب څخه لاس ته راځي:<br><br>$P(ww) = 0,5 \cdot 0,5 = 0,25$<br>$P(wz) = P(zw) = P(zz) = 0,25$ | <br> |

د داسې لاسته راوړنو یا هم ونو دیاګرام په مرسته کېدی شي د پام وړ احتمالوالی د ډېر پوړیز تصادفي ازماینتونو په مرسته شوونی شي
بیلګه: د یوه مسلکې ښوونځې زده کوونکو شورا له درې نارینه ـ او دوه ښځینه زده کوونکو جوړه ده. پچه اچول کیږي، چې څوک په دې کال کې د شورا ریس او مرستیال کیدی شي. لومړی ریس او بیا مرستیال ټاکل کیږي، د پچې اچولو له لارې..

الف) د کوم احتمالوالي سره کیدی ښي چې یوه زده کوونکې ریسه او بله یې مرستیاله وټاکل شي؟

ب) د کوم احتمالوالي سره کېدی شي یوه زده کوونکې ریسه او زده کووونکی مرستیال وټاکل شي؟

پ) د کوم احتماوالي سره به یوه زده کوونکې مرستیاله وټاکل شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا یوه   دوه پوړیزه  تصادفي تجربه ده، چې د یوې لاترۍ په څیر رامنځ ته کیږي.

په  جام کې  ۵  غونداري  دي،  ۲ سره د ښځینه زده کوونکو لپاه دي او  ۳  تور د نارینه زده کوونکو لپاره

له جام څخه یو په بل پسې دوه غونداري راوستل کیږي( راوستنه بې له بیرته ایښوونې یا بیا وراچونې) .

دا حالت یو ونه ډیاګرام  لیدوړ کوي.




یادونه : سور خال ښځینه زده کوونکې،  تور خال نارینه زده کوونکي

الف )   : یوه زده کوونکې رییسه ده، بله مرستیا له

$$P(A)=P(rr)=0,1$$

ب )     : زده کوونکې رییسه ده او رده کوونکی مرستیال

$$P(B)=P(rs)=0,3$$

پ) زده کوونکې مرستیاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\Rightarrow C=\{rr;sr\}$$

$$P(C)=P(rr)+P(sr)=0,1+0,3=0,4$$

په بيلګه کې احتمالوالی د تار قانون په مرسته و ښودل شو.

١ . تارقاعده په يوه و نه دياګرام کې د يوې پيښې احتمالوالی د اړونده تار اوږدوالي د احتمالوالي د ضرب سره برابر دی.

٢ . تارقاعده : په ونه دياګرام کې د يو ې پيښې احتمالوالی ، په دې اړونده تار احتمالوالو زياتون ( جمعه) دی

په ياد ولره:

په ونه دياګرام کې مو هر تار د يوې پيښې تصادف ازمايښت ته بيايي يا لارښوده وي..
د داسې يوې پيښې احتمالوالی ددې تار په اوږدوالي پراته برخه احتمالوالو ځل دی

تارقاعده

کا د يوګونو تارونو احتمالوالی په يوه جدول کې سره راټول کړو، نو د احتمالوالي وېشنه په لاندې توګه لاس ته راځي

| E | rr | rs | sr | ss |
|---|---|---|---|---|
| P(E) | 0,1 | 0,3 | 0,3 | 0,3 |

دا کيدی شي د مټې يا ستن دياګرام په توګه هم انځو رشي. د ا حتمالوالو زياتون تل ١ ورکوي

احتمالوالی P(E)




پيښنه E

کينۍ لور ته ولاړ هم: احتمالوالی P(E) دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیلګه:  په یوه مرتبان کې ۳ سره او ۲ زیړ عونډاري پراته دي یو په بل پسې ۲ غونډاري راوستل کیږي د بیرته وراچولو سره
الف) ونه دیاګرام او  احتمالوالي وېشنه د جدولکوني دیاګرام په خیر وکاږی
ب) د پیښې  A  لپاره احتمالوالی وشمیری: راوستلي غونډاري نابرابر رنګ,نه لري
پ ) د پیښې B  لپاره احتمالوالی وشمیری:کم له کمه یو  راوستل شوی غونډاری زیړ دی

ځوابونه      الف )




$$P(rr)=\frac{3}{5}\cdot\frac{3}{5}=\frac{9}{25}=0,36$$

$$P(rg)=\frac{3}{5}\cdot\frac{2}{5}=\frac{6}{25}=0,24$$

$$P(gr)=\frac{2}{5}\cdot\frac{3}{5}=\frac{6}{25}=0,24$$

$$P(gg)=\frac{2}{5}\cdot\frac{2}{5}=\frac{4}{25}=0,16$$

| E | rr | rg | gr | gg |
|---|---|---|---|---|
| P(E) | 0,36 | 0,24 | 0,24 | 0,16 |




په پورته کیڼ لور خیره کې د الماني ویو (لغاتونو) مانا:
Wahrsheinlichkeitsverteilug  د احتمالوالي وېشته، Wahrscheinlichkeit
احتمالوالی، Ereignis    پیښه

ب)

$$A=\{rg;gr\}\Rightarrow P(A)=P(rg)+P(gr)=\frac{6}{25}+\frac{6}{25}=\frac{12}{25}=0,48$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



پ)

$$B=\{rg;gr;gg\}\Rightarrow P(A)=P(rg)+P(gr)+P(gg)=\frac{6}{25}+\frac{6}{25}+\frac{4}{25}=\frac{16}{25}=0,64$$

بیلګه: په یوه کوټی کې ۳ سره او ځلور زیړ غونډاري اچول شوي. له دې ځخه یو یو غونډاری راباسوو بې له بیرت اچوني..

الف)ونه دیاګرام او احتمالوالی ویشنه د جدول او دیاګرام په څیر وکاږی.

ب ) د پیښي A لپاره احتمالوالی وشمیرئ: دوم راوستلی غونډاری سور دی

پ) د پیښي B لپاره احتمالوالی وشمیرئ: دواړه غونډاري برابر رنګ لري




| E | rr | rg | gr | gg |
|---|---|---|---|---|
| P(E) | $\frac{1}{7}\approx 0,143$ | $\frac{2}{7}$ | $\frac{2}{7}$ | $\frac{2}{7}\approx 0,286$ |




ب)

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$A = \{rr; gr\} \Rightarrow P(A) = P(rr) + P(gr) = \frac{1}{7} + \frac{2}{7} = \frac{3}{7} \approx 0,429$$

پ)

$$B = \{rr; gg\} \Rightarrow P(A) = P(rr) + P(gg) = \frac{1}{7} + \frac{2}{7} = \frac{3}{7} \approx 0,429$$

یادونه : په راتلونکې کې به په دې هکله په زړه پورې پوښتنې او ځوابونه راوړل شي

## پوښتنې

## ډېر پوړیزې تصادفي ازماینې I

لومړی - یوه پیسه دوه واره غورځول کیږي. ونه دیاګرام یې وکاږئ او د لاندې پیښنو لپاره احتمالوالی و ټاکی.

الف -

A: ټیک یو ځل ممبرنښان ( په W سره یې ښایو )

ب -

B : لږ تر لږه یو ځل ممبر نښان

پ – C: زیات له زیاته یو ځل ممبر نښان

دویم –

یو ه پیسه درې واره غورځول کیږي. ونه دیاکرام وکاږئ او د لاندې پیښنو لپاره احتمالوالی وټاکی.

الف –

A : له دوه ځله زیات ممبر نښان

ب –

B : زیات له زیاته دوه واره ممبرنښان

(c) ketabton.com: The Digital Library



پ –

C: لږ ترلږه یو ځل ګڼ یا عدد ( په Z سره یې ښایو)

ت –

D : ټیک یو ځل ممبرنښان:

دریم – یو مرتبان دوه2 سره 3 تور او5 زېړ غونډاري (غونډوسکې یا توپونه او یا باغکې(تشلې) او که غواړۍ کرې) لري. پرلپسې دوه غونډاري له مرتبان څخه وېستل کیږي، د بیرته وراچولو سره .ونه دیاګرام و کاږئ، د لاندې پېښو لپاره د احتماوالی وېشنه او احتمالوالی و ټاکئ:

A : دوړاه غونډاری همغه یا یو رنګ لري.

B : لومړی غونډوسکه سره ده او دویمه توره

C: دویمه غونډوسکه سره ده یا توره

D : دC مخامخ یا برعکس پېښه کومه ده او دا د کوم احتمالوالي سره پېښیږي؟

څلورم –

یوه ازموېښه له څلورو پوښتنو جوړه ده. د څلورو دې هرې پوښتنې ته درې ځوابونه ، چې له دې ټیک یو ځواب رښتیا دی ور کړ شوي دي. یو کس بې له چمتووالي ازموینې ته ځي او دا به په بخت چلیپا کوي.

احتمالوالی څومره لوي دی، چې دی په ازموینه کې بریالی شي، که لږ تر لږه باید درې پوښتنې رښتیا یا ټیک ځواب شوي وي.

پنځم –

پنځه ملګري له پولې اخوا ته مېلې ته ځي. د بیرته ستنېدو وخت کې باید د ګمرک څخه تیرشي. سره له دې چې دوی وایې هغوي د اجازې سره سم سګرټ له ځان سره لري، خو سره له دې هم سپین او نرنګ زیات سګرټ له ځانونو سره راوړي. د ګمرک مامور له دوي څخه دوه ټاکي، چې تالاشي یې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف – د کوم احتمالوالي سره د ګمرک مامور قاچاق وړونکی نه شي بيدا کولی؟

ب – د کوم احتمالوالي سره د ګمرک مامور له دې دوه قاچقوړونکو څخه لږ تر لږه يو قاچاقوړونکی نيسي؟

شپږم –

د ليسې د ۱۲ -م ټولګي زده کوونکي دوه ټولګي جوړوي چې په ټوليزه توګه ۴۰ زده کوونکي لري. هر زده کوونکی د تياتر لپاره يوه يوه وړيا کارته تر لاسه کوي. زده کوونکو ته د احتمالوالي پرينځيپ يا اساساتو پر بنسټ له ۱ څخه تر ۴۰ پورې چوکی تنظيميږي. د کوم يو احتمالوالي سره په لومړيو شپږ ځايونو کې د يوه ټولګي زده کوونکي ځای نيسي؟ ( لارښود: يو مناسب د مرتبان مودل و کاروی).

اوم – يو د بخت څرخ د څلورو برابرو ټوټو( قطعو) سره ، چې شين، سور، سپين او اسماني رنګونه لر ي څرخول کيږي. يوه لوبه پای کيږي که دا څرخ ودريږي. له دې څلورو څخه يو رنګ د يوه غشي سره په نخښه يا په ګوته کيږي. د يوې لوبې لړۍ له درې لوبو جوړه ده.

څومره د لوبې پرلپسې بايد لږ تر لږه وشي، چې د60% څخه زيات احتمالوالي سره لږ ترلږه يوه لوبه پرلپسې له درې ځله شنه سره لاس ته راوړو؟

## ځوابونه

دېر پوړيزې تصادفي ازمايښ I

مفصل ځوابونه

لومړی – A : تيک يو ځل ممبر نښان

B : لږ تر لږه يو ځل ممبرنښان.

$$P(B)=P(\{WW;WZ;ZW\})=P(\{WW\})+P(\{WZ\})+P(\{ZW\})=3\cdot 0,25=\underline{0,75}$$

يا برعکس پېښې $\overline{B}$ :سره: هيڅ ځل ممبر نښان

$$P(B)=1-P(\overline{B})=1-P(\{ZZ\})=1-0,25=\underline{\underline{0,75}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



C : زيات له زياته يو ممبر نښان .

$$P(C)=P(\{WZ;ZW;ZZ\})=P(\{WZ\})+P(\{ZW\})+P(\{ZZ\})=3\cdot 0,25=\underline{\underline{0,75}}$$

يا د متضاد پيښي $\overline{C}$ سره : دوه ځله ممبر نشان

$$P(C)=1-P(\overline{C})=1-P(\{WW\})=1-0,25=\underline{\underline{0,75}}$$

دويم -




$$P(WWW)=0,5^3=0,125$$
$$P(WWZ)=0,5^3=0,125$$
$$P(WZW)=0,5^3=0,125$$
$$P(WZZ)=0,5^3=0,125$$
$$P(ZWW)=0,5^3=0,125$$
$$P(ZWZ)=0,5^3=0,125$$
$$P(ZZW)=0,5^3=0,125$$
$$P(ZZZ)=0,5^3=0,125$$

A : له دوه ځخه زيات ځله ممبر نشآن

$$P(A)=P(\{WWW\})=\frac{1}{8}=0,125$$

B : زيات له زياته دوه ځله ممبرنښان په دې معنا چې هېڅ ځل ، يو ځل يا دوه ځله ممبر نښان. د B برعکس پيښه : درې ځله ممبرنښان.

$$P(B)=1-P(\overline{B})=1-P(\{WWW\})=1-\frac{1}{8}=\frac{7}{8}=0,875$$

C : لږ تر لږه يو ځل عدد. لږ تر لږه يو ځل عدد په دې معنا دی، چې يو ځل، دوه ځله يا درز ځله عدد. د C برعکس پيښه د اسي ه: هيڅ حل عدد، دا مګردرې ځله ممبر دی.

$$P(C)=1-P(\overline{C})=1-P(\{WWW\})=1-\frac{1}{8}=\frac{7}{8}=0,875$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



ت – D : تيک يو ځل ممبرنښان

$$P(D) = P(\{WZZ; ZWZ; ZZW\})$$
$$= P(\{WZZ\}) + P(\{ZWZ\}) + P(\{ZZW\}) = 3 \cdot 0{,}125 = 0{,}375$$

دريم -




$P(rr) = \frac{2}{10} \cdot \frac{2}{10} = \frac{4}{100}$

$P(rs) = \frac{2}{10} \cdot \frac{3}{10} = \frac{6}{100}$

$P(rg) = \frac{2}{10} \cdot \frac{5}{10} = \frac{10}{100}$

$P(sr) = \frac{3}{10} \cdot \frac{2}{10} = \frac{6}{100}$

$P(ss) = \frac{3}{10} \cdot \frac{3}{10} = \frac{9}{100}$

$P(sg) = \frac{3}{10} \cdot \frac{5}{10} = \frac{15}{100}$

$P(gr) = \frac{5}{10} \cdot \frac{2}{10} = \frac{10}{100}$

$P(gs) = \frac{5}{10} \cdot \frac{3}{10} = \frac{15}{100}$

$P(gg) = \frac{5}{10} \cdot \frac{5}{10} = \frac{25}{100}$

| $e_i$ | rr | rs | rg | sr | ss | sg | gr | gs | gg |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| P | $\frac{4}{100}$ | $\frac{6}{100}$ | $\frac{10}{100}$ | $\frac{6}{100}$ | $\frac{9}{100}$ | $\frac{15}{100}$ | $\frac{10}{100}$ | $\frac{15}{100}$ | $\frac{25}{100}$ |

الف -

A : دواړه غونداري همغه رنګيز دي.

$$P(A) = P(\{rr\}) + P(\{ss\}) + P(\{gg\}) = \frac{4}{100} + \frac{9}{100} + \frac{25}{100} = \frac{38}{100} = \underline{\underline{0{,}38}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



B : لومړی غونډاری سور دی، او دویم تور دی.

$$P(B)=P(\{rs\})=\frac{6}{100}=\underline{\underline{0,06}}$$

C : دویم غونډاری سور یا تور دی.

$$P(C)=P(\{rr\})+P(\{rs\})+P(\{sr\})+P(\{ss\})+P(\{gr\})+P(\{gs\})$$

$$=\frac{4}{100}+\frac{6}{100}+\frac{6}{100}+\frac{9}{100}+\frac{10}{100}+\frac{15}{100}=\frac{50}{100}=\underline{\underline{0,5}}$$

ت - دC برعکس پیښنه څنګه ده او دا د کوم احتمالوالي سره رامنځ ته کيږي؟

$\overline{C}$ : دویم غونډاری تور دی.

$$P(\overline{C})=1-P(C)=1-0,5=\underline{\underline{0,5}}$$

څلورم- دا څلورم پوړیزه تصادفي پیښنه ده (څلور پوښتنې ) . د یوه ټیک ځواب لپاره احتمالوالی1/3 دی، او د ناټیک لپاره 2/3 .

په لاندې کې د المانې معنا: درې پوښتنې ټیک دي

$$P(3\ \text{Fragen richtig})=P(\{rrrr\})+P(\{rrrf\})+P(\{rrfr\})+P(\{rfrr\})+P(\{frrr\})$$

$$P(\{rrrr\})=\frac{1}{3}\cdot\frac{1}{3}\cdot\frac{1}{3}\cdot\frac{1}{3}=\left(\frac{1}{3}\right)^4$$

$$P(\{rrrf\})=P(\{rrfr\})=P(\{rfrr\})=P(\{frrr\})=\left(\frac{1}{3}\right)^3\cdot\frac{2}{3}$$

$$P(3\ \text{Fragen richtig})=4\cdot\left(\frac{1}{3}\right)^3\cdot\frac{2}{3}+\left(\frac{1}{3}\right)^4=\frac{8}{3^4}+\frac{1}{3^4}=\frac{9}{3^4}=\underline{\underline{\frac{1}{9}\approx 0,11}}$$

پنځم -

مودل ( Modell) : په یو ه مرتبان کې 3 شنه غونډاري ( هیڅ - یا نه قا چاق وړونکی N ) او 2 سره غونډاري( قاچاق وړونکی S ). دوه واره غونډاری راوېستل کيږي بې له بيرته ور اچولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library






$$P(SS)=\frac{2}{5}\cdot\frac{1}{4}=\frac{2}{20}=\frac{1}{10}=0{,}1$$

$$P(SN)=\frac{2}{5}\cdot\frac{3}{4}=\frac{6}{20}=\frac{3}{10}=0{,}3$$

$$P(NS)=\frac{3}{5}\cdot\frac{1}{2}=\frac{3}{10}=0{,}3$$

$$P(NN)=\frac{3}{5}\cdot\frac{1}{2}=\frac{3}{10}=0{,}3$$

الف – د کوم احتمالوالي سره د ګمرک مامور لخوا قاچاقوړونکی نه نیول کیږي؟

P (NN) = 0,3.

ب – د کوم احتمالوالي سره د ګمرک مامور له دې دواړو قاچاقوړونکو لږ تر لږه یو رانیسي؟

P(S لږ تر لږه یو)= P(SS) + P(SN) + P(NS) = 0,1 + 0,3 + 0,3 = 0,7.

شپږم – د مرتبان مودل :

20سره غونډاري ( ټولکی 1 ) او 20 شنه غونډاري ( ټولکی 2 ) شپږ ځله را وباسی بې له بیرته ور اچولو.

P = P({rrrrrr})+P({gggggg})

احتمالوالی د دواړو ټولکیو لپاره برابردی P({rrrrrr})=P({gggggg})

$$P(\{rrrrrr\})=\frac{20\cdot19\cdot18\cdot17\cdot16\cdot15}{40\cdot39\cdot38\cdot37\cdot36\cdot35}$$

را وېستل بې له بیرته ور اچوني.

$$P=P(\{rrrrrr\})+P(\{gggggg\})=2\cdot\frac{20\cdot19\cdot18\cdot17\cdot16\cdot15}{40\cdot39\cdot38\cdot37\cdot36\cdot35}=\underline{\underline{0{,}02}}$$

اوم-

A : د n لوبو پرلپسي کې لږ ترلږه یوه لوبه پرلپسي درې ځله شنو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه یوه لوبه یو ځل شین $P(\{g\}) = \frac{1}{4}$

$$\Rightarrow P(\{ggg\}) = \frac{1}{4}\cdot\frac{1}{4}\cdot\frac{1}{4} = \frac{1}{64}$$

د یوې لوبې پرلپسې سره درېواره شین د A برعکس یاپه څنګ پیښه ده:

$\overline{A}$: په n لوبو کې د لوبې پرلپسې د درېواره شنه سره نه شته

پـه یوه لوبه پرلپسې کې درېواره شین نه شته $P(\{\overline{ggg}\}) = 1 - P(\{ggg\}) = 1 - \frac{1}{64} = \frac{63}{64}$

$$P(\overline{A}) = \left(\frac{63}{64}\right)^n \Rightarrow P(A) = 1 - P(\overline{A}) = 1 - \left(\frac{63}{64}\right)^n$$

$$P(A) > 0,6 \Leftrightarrow 1 - \left(\frac{63}{64}\right)^n > 0,6 \,|\, -1$$

$$\Leftrightarrow -\left(\frac{63}{64}\right)^n > -0,4 \,|\, : (-1)$$

$$\Leftrightarrow \left(\frac{63}{64}\right)^n < 0,4 \,|\, \ln$$

$$\Leftrightarrow n \cdot \underbrace{\ln\left(\frac{63}{64}\right)}_{<1} < \ln(0,4) \,|\, : \ln\left(\frac{63}{64}\right)$$

$$\Leftrightarrow n > \frac{\ln(0,4)}{\ln\left(\frac{63}{64}\right)} \approx \underline{\underline{58,18}}$$

باید لږ ترلږه 59 ځله لوبه وشي، چې کم له کمه یوه لوبې پرلپسې کې درې ځله شنه راووېستل شي.

پوښتنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر پوړيز تصادفي ازمايښتونه II
لومړی - په يوه لوښي کې 50 يو ډول غونډاري پراته دي، له دې څخه20 سره او 30 شنه دي. درې غونډاري راوېستل کيږي د بېرته وراچولو سره. دا پېښه کوم احتمالوالی لري؟

الف – A : ټول غونډاري شنه دي. . ب - B : يو غونډاری شين او دوه سره دي
پ - C : يو غونډاری سور او دوه شنه دي. .ت - D : زيات له زياته يو غونډاری سور دی
.
دويم – - په يوه لوښي کې 50 يو ډول غونډاري پراته دي، له دې څخه20 سره او 30 شنه دي. درې غونډاري راوېستل کيږي بې د بېرته وراچولو سره. دا پېښه کوم احتمالوالی لري؟

الف - A : ټول غونډاري شنه دي ب - : يو غونډاری شين او دوه سره دي
پ - C : يو غونډاری سور او دوه شنه دي. ت - D : زيات له زياته يو غونډاری سور دی.

دريم – د خټينو لوښو توليد کې د تجربې له مخې 20% زيانمن لوښي لرو.
الف – څومره احتمالوالی شته چې له څلورو لوښو توليد څخه ټيک درې د استعمال وړ وي؟
ب – – څومره احتمالوالی شته چې له څلورو لوښو توليد څخه ټيک دوه د استعمال وړ وي؟
پ –– څومره احتمالوالی شته چې له څلورو لوښو توليد څخه لږ ترلږه دوه د استعمال وړ وي؟
څلورم – د خټينو لوښو په په يوه زخيره کې 100 تازه جوړ شوي لوښی شتون لري. سړی پوهيږي، چې له دې څخه 20% ناټيکاوي لري. څلور لوښي ترې توکلي رانيول کيږي يا راوېستل کيږي.

الف –
څومره احتمالوالی شته چې څلور واړه لوښي جوړ يا بې ناټيکاوي دی؟
ب – څومره احتمالوالی شته چې له څلورو را نيولو لوښو توليد څخه ټيک درې بې له ناټيکاوي يا جوړ دي.؟

پ – څومره احتمالوالی شته چې له څلور رانيول شوو لوښو لږ تر لږه درې بې غلطی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځم – د تولید کنترول سره د یوه ټاکلي ناټیکاوی 10% سترګو ته نه راځي.
له دې امله دا تولید لهدرې مختلو کنترول کوونکو کنترولیږي. د دې لپاره احتمالوالی
وټاکۍ چې یو بې کاره تولید
الف – خورا ناوخته یا وروسته د 2-م کنترول سره بې کاره و پیژندل شي.
ب- په دریم کنټرول سره بیکاره و پیژندل شي.
پ- د بې کاره په توګه ونه پیژندل شي.

شپږم – په یوه فابریکه کې ختین لوښي تولیدیږي. هر لوښی یو بل پسې په مختلفو
کنترولونو کې د بڼې، رنګ او د باندنۍ سطحې جوړښت په بنسټ ازمایل کیږي.
د تجربې سره سم 25% بڼه د تولید ناټیکاوي له مخې کنترولیږي. د فابریک کنترول
څخه 85% برخې بې له ناټیکاوي کنترول څخه تیریږي . په 20% کې ټولو
حالتونو د بورته سطحې منترول د لومړي انتخاب غوښتني ( انتظار) نه پوره کوي. فقط
که ټول درې کتنر لونه بې د ناټیکاوي کنترول څخه تېر شوي وي، کېدی شي د لومړي
انتخاب به حیث یوه برخه و پرول شي. یوه برخه د دویم انتخاب په خیث، که
هځرنګوالی فقط په یوه کنترول کې بسیا ونه کړي. نور ټول پاتې لوښي زیانمن ( د
غورځولو) تولید دی.
الف – ټول در ېواره کنترول په ونه دیاګرام کې انځور کړئ
ب – څومره احتمالوالی شته چې یوه برخه لومړی انتخاب وي؟.
پ – څومره احتمالوالی شته چې یوه برخه دویم انتخاب وي؟
ت – څومره احتمالوالی شته چې یوه برخه زیانمنه وي؟
اوم – په یوه لاتري A کې د 10000 لاتریو پانو لپاره 4500 ګټونکي شته ، په لاتري
B کې د15000 لاتریو لاندې 9500 ګټونکي شتون لري. یو کس د هرې لاتري څخه
یوه اخلي .
الف – اختمالوالی څومره لوی دی، چې په همغه وخت کې دواړه رانیول شوې لاترې
وګټي؟
$E_1$ : په دواړو لاتریو کې ګټنه.

ب- احتمالوالی څومره لوي دی، چې لاتري ونه کټي؟
$E_2$ : چې هیڅ لاتري نه کټي؟
پ – احتمالوالی څومره لوي دی،چې لږترلږه پهیوه لاتري کې وګټي؟
$E_3$ : وړل په لږترلږه یوه لاتري کې.
.

ځوابونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر پوړيزې تصادفی تجربې II

مفصل ځوابونه

لومړی –

$$P(\{rrr\}) = \left(\frac{2}{5}\right)^3 = 0{,}064$$

$$P(\{rrb\}) = P(\{rbr\}) = P(\{brr\}) = \left(\frac{2}{5}\right)^2 \cdot \frac{3}{5} = 0{,}096$$

$$P(\{rbb\}) = P(\{brb\}) = P(\{bbr\}) = \frac{2}{5} \cdot \left(\frac{3}{5}\right)^2 = 0{,}144$$

$$P(\{bbb\}) = \left(\frac{3}{5}\right)^3 = 0{,}216$$




الف -

A : ټول غونډاري شنه دي.

$$P(A) = P(\{bbb\}) = \underline{\underline{0{,}216}}$$

ب -

B: يو غونډاری شين او دوه سره دي.

$$P(B) = P(\{rrb\}) + P(\{rbr\}) + P(\{brr\}) = 3 \cdot 0{,}196 = \underline{\underline{0{,}288}}$$

پ –

C : يو غونډاری سور ، دوه شنه دي.

$$P(C) = P(\{rbb\}) + P(\{brb\}) + P(\{bbr\}) = 3 \cdot 0{,}144 = \underline{\underline{0{,}432}}$$

ت –

D : زيات له زياته يو غونډاری سور دی. دا په دې معنا چې هيڅ يا يو غونډاری.

$$P(D) = P(\{bbb\}) + P(\{bbr\}) + P(\{brb\}) + P(\{rbb\}) = 0{,}216 + 3 \cdot 0{,}144 = \underline{\underline{0{,}648}}$$

دويم –

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$P(\{rrr\})=\frac{20}{50}\cdot\frac{19}{49}\cdot\frac{18}{48}$$

$$P(\{rrb\})=\frac{20}{50}\cdot\frac{19}{49}\cdot\frac{30}{48}=C$$

$$P(\{rbr\})=\frac{20}{50}\cdot\frac{30}{49}\cdot\frac{19}{48}=\frac{30\cdot20\cdot19}{50\cdot49\cdot48}$$

$$P(\{rbb\})=\frac{20}{50}\cdot\frac{30}{49}\cdot\frac{29}{48}=\frac{30\cdot29\cdot20}{50\cdot49\cdot48}$$

$$P(\{brr\})=\frac{30}{50}\cdot\frac{20}{49}\cdot\frac{19}{48}=\frac{30\cdot20\cdot19}{50\cdot49\cdot48}$$

$$P(\{brb\})=\frac{30}{50}\cdot\frac{20}{49}\cdot\frac{29}{48}=\frac{30\cdot29\cdot20}{50\cdot49\cdot48}$$

$$P(\{bbr\})=\frac{30}{50}\cdot\frac{29}{49}\cdot\frac{20}{48}=\frac{30\cdot29\cdot20}{50\cdot49\cdot48}$$

$$P(\{bbb\})=\frac{30}{50}\cdot\frac{29}{49}\cdot\frac{28}{48}$$




الف ـ

A : تول غونډاري شنه دي.

$$P(A)=P(\{bbb\})=\frac{30}{50}\cdot\frac{29}{49}\cdot\frac{28}{48}\approx\underline{\underline{0,207}}$$

ب –

B : يو غونډاری شين او دوه سره دي..

$$P(B)=P(\{rrb\})+P(\{rbr\})+P(\{brr\})=3\cdot\frac{30\cdot20\cdot19}{50\cdot49\cdot48}\approx\underline{\underline{0,291}}$$

پ –

C : يو غونډاری سور دی، دوه شنه دي..

$$P(C)=P(\{rbb\})+P(\{brb\})+P(\{bbr\})=3\cdot\frac{30\cdot29\cdot20}{50\cdot49\cdot48}\approx\underline{\underline{0,444}}$$

ت –

D : زيات له زياته يو غونډاری سور دی. دا په دي معنا چي  هيخ يا فقط يو.

$$P(D)=P(\{bbb\})+P(\{bbr\})+P(\{brb\})+P(\{rbb\})$$

$$=\frac{30}{50}\cdot\frac{29}{49}\cdot\frac{28}{48}+3\cdot\frac{30\cdot29\cdot20}{50\cdot49\cdot48}\approx\underline{\underline{0,651}}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



دريم –

مودل : مرتبان له يوه سره( ناتيک توليد سره) او څلور شنه ( بې له ناتيکاوي يعني تول سم) غونډارو سره. څلور واره وېستنه له بيرته ايښووني يا بيرته ور اچوني سره.




الف –

A : درې له څلورو د کاروړ دي. دا ونه دياګرام څلور تارونه لري، چې دA پيښې لپاره باوري relevant يا significant دي.

$$P(A) = 4 \cdot \frac{1}{5} \cdot \left(\frac{4}{5}\right)^3 = 4 \cdot \frac{64}{625} = \underline{\underline{0,4096}}$$

ب –

: له څلورودوه د کاروړ دي. دا ونه دياګرام 6 تارونه لري، چې دB پيښې لپاره باوري يا د پوښتنې دي يعني پوښتنه کې راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$P(B) = 6 \cdot \left(\frac{1}{5}\right)^2 \cdot \left(\frac{4}{5}\right)^2 = 6 \cdot \frac{16}{625} = \underline{\underline{0,1536}}$$

پ –

C : لږ تر لږه درې له څلورو د کار وړ دي. داپه دې معنا چې درې یا زیات د کاروړ دي.

$$P(C) = P(A) + \left(\frac{4}{5}\right)^4 = 4 \cdot \frac{1}{5} \cdot \left(\frac{4}{5}\right)^3 + \left(\frac{4}{5}\right)^4 = 4 \cdot \frac{64}{625} + \frac{256}{625} = \underline{\underline{0,8192}}$$

څلورم –

مودل Modell : مرتبان له 20 سرو سره ( د زیان سره ) او80 شنه ( بې زیانه) غونډاري څلورواره وېستل بې له بېرته اینسووني یا بیرته ور اچوني سره. د لسمي پوښتني دیاګرام کیدی شي وکارول شي. مګر سره له دې دې هم په پام کې وي، چې د تارونو احتمالوالی تغیر خوري.

الف –

A : ټول څلور لوښي بې زیانه دي. دا ونه دیاګران یو تارلري، چې د هغې لپاره پیښه A رامنځ ته کیږي یا پیښیږي.

$$P(A) = \frac{80}{100} \cdot \frac{79}{99} \cdot \frac{78}{98} \cdot \frac{77}{97} \approx \underline{\underline{0,4033}}$$

ب –

B : دد رانیولو څلور لوښو څخه درې بې زیانه دي. دا ونه دیاګرام څلور تارونه لري، چې د پیښې B لپاره رلېوانت یا د باوروړ دي.

$$P(B) = 4 \cdot \frac{20 \cdot 78 \cdot 79 \cdot 80}{97 \cdot 98 \cdot 99 \cdot 100} \approx \underline{\underline{0,4191}}$$

پ – یا زیات

C : لږتر لږه درې له دې څلور رانیولشوو لوښو بې زیانه دي. دا په دې معنا چې درې یا زیات بې زیانه دي.

$$P(C) = P(A) + P(B) = \frac{80}{100} \cdot \frac{79}{99} \cdot \frac{78}{98} \cdot \frac{77}{97} + 4 \cdot \frac{20 \cdot 78 \cdot 79 \cdot 80}{97 \cdot 98 \cdot 99 \cdot 100} \approx \underline{\underline{0,8224}}$$

پنځم -

(c) ketabton.com: The Digital Library






مودلModell : مرتبان یا جام د1سره ( زیانمن) او 9 شنه ( بې زیانه) غونډارو سره . درې واره وپستنه د بیرته ور اچونې سره .

د لیل د بیرته وراچونې لپاره : کنترول یو له بل خپلواک پېښیږي. وتون حالت د هر ځل وپستنې لپاره تل بیرته همغه یا برابر دی.( د زیان نه لیدنه 10% ) مخامخ د الماني پېنتو له پورته وکښته لور ته: ۱ . کنترول،۲.کنترول، ۳.کنترول،شین:زیان کشف کیږي، سور:زیان نه کشفکیږي.

الف –

A : د دويم کنترول سره خورا وروسته پیژندل شوې ، په دې معنا چې زیان په لومړي او یا دويم کنترول کې پیژندل کیږي.

د لومړي کنترول سره پیژندل شوي: $P(1.) = \frac{9}{10} = 0{,}9$

د دويم کنترول سره پیژندل شوي: $P(2.) = \frac{1}{10}\cdot\frac{9}{10} = \frac{9}{100} = 0{,}09$

$$P(A) = \frac{9}{10} + \frac{9}{100} = \underline{\underline{0{,}99}}$$

ب –

B : په لومړي ځل په دریم کنترول کې پیژندل کیږي.

$$P(B) = \frac{1}{10}\cdot\frac{1}{10}\cdot\frac{9}{10} = \frac{9}{1000} = \underline{\underline{0{,}009}}$$

پ –

C : نه پیژندل کیږي..

$$P(C) = \frac{1}{10}\cdot\frac{1}{10}\cdot\frac{1}{10} = \frac{1}{1000} = \underline{\underline{0{,}001}}$$

شپږم –

الف – د لاندې پېنتو: له کیڼ کښته لور ته: بڼه، رنګ، پورته سطحه، کنترول کې بریالي، کنترول کې نابریالي. له ښي کښته لور ته:۱.انتخاب، ۲ .انتخاب،۲ . انتخاب،زیانمن ( یعني د غوځولو)۲.انتخاب، زیانمن، زیانمن،زیانمن.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی انتخاب:

$0,75 \cdot 0,85 \cdot 0,8 = \underline{\underline{0,51}}$

دویم انتخاب :

$0,75 \cdot 0,85 \cdot 0,2 = 0,1275$

$0,75 \cdot 0,15 \cdot 0,8 = 0,09$

$0,25 \cdot 0,85 \cdot 0,8 = 0,17$

زیانمن:

$0,75 \cdot 0,15 \cdot 0,2 = 0,0225$

$0,25 \cdot 0,85 \cdot 0,2 = 0,0425$

$0,25 \cdot 0,15 \cdot 0,8 = 0,03$

$0,25 \cdot 0,15 \cdot 0,2 = 0,0075$




ب - $P(2.\text{Wahl}) = 0,1275 + 0,09 + 0,17 = \underline{\underline{0,3875}}$

پ- $P(1.\text{Wahl}) = \underline{\underline{0,51}}$

ت -

$P(\text{Ausschuss}) = 0,0225 + 0,0425 + 0,03 + 0,0075 = \underline{\underline{0,1025}}$

اوم –

الف -

$P(A) = \dfrac{4500}{10000} \qquad P(B) = \dfrac{9500}{15000}$

$P(E_1) = P(A \cap B) = P(A) \cdot P(B) = \dfrac{4500}{10000} \cdot \dfrac{9500}{15000} = \underline{\underline{0,285}}$

xx

ب – ګټه مخ ته نه لرو، که په لاټري A او لاټري B کې ونه ګټل شي.

دلته باورور لري: $\bar{A}$ په لاټري A کې بایلنه $\bar{B}$ په لاټري B کې بایلنه

$P(E_2) = P(\bar{A} \cap \bar{B}) = \dfrac{5500}{10000} \cdot \dfrac{5500}{15000} = \underline{\underline{0,202}}$

پ - $E_3$ د $E_2$ په څټ – یا برعکس پیښه

$P(E_3) = 1 - P(E_2) = 1 - 0,202 = \underline{\underline{0,798}}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږ م – په احتمالوالي شمیرنه کې  د مرتبان مودل

## د مرتبان مودل

ډېرې  تصادفي تجربې کیدی شي، دیوه لوښي څخه د مختلفو غونډارورواوستلو  له لارې، چې مر  تبان یا کټوری یې بولو  مودل  یې جوړې شي.  په یوه کټوري کې n  غونډاري پراته دي، چې له هغې څخه k  راوستل کیږي.

راوستنه  کیدی شي په دوه مختلفو ډولونو  صورت ونیسي:

اول - یو  غونډاری راوستل کیږي اوبیرته ور اچولکیږي.

داد مرتبان مودل( ډول ) بلل کیږي د بیرته وراچونې سره.

دویم – له  راوستنې وروسته غونډاری بیرته نه وراچول کیږي.

دا د متربان مودل( ډول) بلل کیږي نه د بېرته وراچونې سره

ډېرې تصادفی تجربې کېدی شي د مرتبان ډول باندې بېرته واړول شي. دا تصادفي پېښه په بام کې نیسو،، درې واره د پیسې غورځونه،، ، د دې په ځای کېدی شي د مرتبان څخه چې دوه مختلف غونډاري په کې پراته دي درې واره یو  یو  غونډاری  راووستل شي، د بیرته وراچونې سره.

## د مرتبان  مودلونې (د روستنې ډول)  سره تصادفي ازماېښت

یو څو بیلګې دې د متبان مودلګتې په ګوته کړي.

| تصادفي تجربه | Urnenmodell د مرتبان مودل |
|---|---|
| د یوه سترګي (مکعب) د دوه واره غورځولو سر، چې شپږ را ووځي احتمالوالی څومره لوي دی؟ | مرتبان له شپږو غونډارو سره له 1 تر 6 په ګڼه (نمره) شوي.<br><br>دوه واره راوستنه د بېرته وراچونې سره.<br><br>پلټونکی احتمالوالی: |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| | $P(6\mid 6) = \frac{1}{6}\cdot\frac{1}{6} = \frac{1}{36} \approx 0{,}028$ |
| دیوه ټولګي د 25 زده کوونکو څخه 10 زده کونکو د کور کار نه دی کړی. یو ښوونکی توکلي یو زده کوونکی کنترولوي.<br><br>د کوم احتمالوالي سره هغه زدهک وونکی په لاس ورځي، چې کورنی کار يې نه دی کړی؟ | مرتبان له 25 غونډارو سره.<br><br>15 سپین او10 تور .<br><br>پلټونکی احتمالوالی:<br>$P(s) = \frac{10}{25} = \frac{2}{5} = 0{,}4$ |
| د لیسې په یوه ټولګي کې ۱۲۰ 120 زده کوونکي ( نارینه اوښځینه) دالی شتون لري ( د تعلیم او تربیې له څانګې) 15% نارینه دي.<br><br>د یوې مسا بقې لپاره دوه زده کوونکي(ن ، ښ) راوېستل کیږي(د دوه وو لپاره پچه اچول کیږي). څومره احتمالوالی لري چې دا دوه زده کوونکي نارینه وي؟ | مرتبان له 120 غونډارو سره.<br><br>102 سپین غونډاري( دښځینه وو لپاره او18 تور غونډاري ( د نارینه ووو لپاره).<br><br>دوه واره راوستنه د نه بېرته وراچونې سره.<br><br>پلټونکی یا غوښتونکی احتمالوالی.<br>$P(s\mid s) = \frac{18}{120}\cdot\frac{17}{119}$<br>$= \frac{306}{14280} = \frac{51}{2380} \approx 0{,}021$ |
| یو د احسایي انسیتوت غواړي پیدا کړي، چې د ټولو زیږېدنو څخه 53% نارینه کوچنیان دي.<br><br>احتمالوالی څومره لوی دی، که یوه مور په پر | مرتبان له 100 غونډاروسره.<br><br>53 شنه ( د هلکانو لپاره) او 47 ګلابي ( د نجونو لباره).<br><br>دوه واره راوستنه د بیرته وراچونې سره.<br><br>غوښتونکی احتمالوالی: |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| بل پسې دوه هلکان دنیا ته راوړي؟ | $P(b\mid b)=\frac{53}{100}\cdot\frac{53}{100}$ <br> $=\frac{2809}{10000}\approx 0{,}2809$ |

ممکن ترلې روښانه نه وي، چې ولې تصاذفي تجربه د دوه واره روستنې له لارې د بيرته وراچونې له لارې سميولي ( د سيستم تحليل تيوريتيکي يا د فرمولونو له لارې پيچلی وي) کېدی شي.

دا کيدی شي داسې په بام کې راولي، چې موراني تل د درې برابر احتمالوالي وښني سره کچنيان نړی ته راوړی شي. دا په دز معنا چې له زيږېدنې وروسته بېرته همغه وتون حالت حاکم دی. دا د غونډاروبيرته ور اچونې سره سمولي ( دا په دې معنا چې د کوچنيانوپه ځای له غونډارو کار اخستل کيږي) کيدی شي.

يو بيخي بل ډول سيمولاېشن حاکم کيږي، که د بيلګې په توګه 100 نوي زيږېدلو کوچنيانو څخه مخ ته لاړ شو چې له هغو53% هلکان دي. تصادفي يا توکلي دوه کوچنيان ټاکو، نو د دې لپاره

احتمالوالی، چې سړي ټيک دوه هلکان ټاکلي ،دی:

$$P(j\mid j)=\frac{53}{100}\cdot\frac{52}{99}=\frac{53\cdot 13}{25\cdot 99}\approx 0{,}2784$$

دا به راوستنه وي، بې له بېرته وراچونې.

د ختينو لوښو څخه له دې مخ ته ځو چې 20% زيانمن يا ناسم توليديږي.

څومره احتمالوالی شته چې له درې لوښو څخه ټيک دوه د کار وړ وي؟

يادونه : په لاندې کېg د شنه لپاره او r د سره لپاره ځای په ځای شوي دي.

مودل: کټوری له 8 شنه غونډارو سره ( د کاروړ) او2 سرو غونډارو سره ( زيان من). درې وراه وېستنه له بيرته وراچونې سره:

پيښنه A - له دريو څخه دوه لوښي د کا وړ دي.

د ونې دياګرام په مرسته نتيجه ډېرۍ لاس ته راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د راوستني نتيجه ډېرۍ ده : , S={ggg,ggr,grg; rgg,rrg;rgr;grr;rrr}

د پېښې ډېرۍ ده: A={ggr;grg;rgg}

$$P(g)=\frac{8}{10}=0{,}8 \qquad P(r)=\frac{2}{10}=0{,}2$$

$$P(gg)=0{,}8\cdot 0{,}8 \qquad P(ggr)=0{,}8\cdot 0{,}8\cdot 0{,}2$$

$$P(A)=P(ggr)+P(grg)+P(rgg)$$
$$=0{,}8^2\cdot 0{,}2+0{,}8\cdot 0{,}2\cdot 0{,}8+0{,}2\cdot 0{,}8^2=3\cdot 0{,}8^2\cdot 0{,}2=\underline{\underline{0{,}384}}$$

له څلورو کسانو، انګوره (A), ، بهیر (B), ، کابلۍ (C),، داغي (D) څخه دوه د لوبنو منځلو لپاره توکلي راووتل یا وټاکل شول، چې یو اوبه پرې تېروي یعنې یو یې غړوي او بل یې وچوي. د کوم احتمالوالي سره لومړی کابلۍ او پسې بهیر راوځي؟

مودل :

کټورۍ له څلورو غونډارو سره چې په لیکلي وي. A, B, C او D .

دوه واره راوستنه له بیرته وراچونې سره.
دلته د رواوستلو غونډارو د راوستنې لړۍ په پام کې نیول کیږي. د الف پیښه داسې ده:
لومړی کابلۍ بیا بهیر.

نتیجه ډېرۍ(سټ) د تورو A, B, C او D له ټولو دوه یزو کمبینیشنونو حوړه ده ، یعنې له

$$S=\{AB;AC;AD;BA;BC;BD;CA;CB;CD;DA;DB;DC\}$$
$$A=\{CB\}\Rightarrow P(A)=P(CB)=\frac{1}{4}\cdot\frac{1}{3}=\frac{1}{12}=0{,}08\overline{3}$$

په موټرشمیرلو کې کره شول، چې 65% د تېرېدونکو موټرو شخصي موټر یعنې واړه موټرPkw او30% باروړونکي موټرLkw او5% نور خوزنده الات دي.
احتمالوالی څومره لوی دی، چې لومړی کوچنی موټرPkw پسې لاریLkw اوپسې دا بل خوزنده اله ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



مودل :

کټورى له غونډارو سره ،65 سره ګړندى (Pkw)، 30 تور لارئ (Lkw) او 5 سپين (نور څغلنده ماشينونه). د

درېواره وستنه د بيرته ور اچونې سره.

$$P(rsw) = \frac{65}{100} \cdot \frac{30}{100} \cdot \frac{5}{100} = 0{,}00975$$

غوښتونى احتمالوالى :

يو لوبه کوونکى(لوبغاړى) جوارګر به يې څکه نه بولو، چې په پيسو داسې لوبې حرامې دي)) د دې لپاره علاقه لري، چې سترګى لږ تر لږه څومره وغورځوي، چې د لږ تر لږه د 90% يوه احتمالوالي سره لږ ترلږه يو ځل 6 وغورځوي.

مودل :

کټورى له سرو غونډارو( بې له 6) او 1 شين غونډارى ( شپږ غورځولى) n – ځله راوستنه د بيرته وراچونې سره. عددn ناڅرګند دى.

موږ پوهيږو، چې د د فکر برابر سره غونډاري غورځولو سره د6 راوتنې احتمالوالى 1/6 دى. احتمالوالى، چې 6شپږ ونه غورځول شي 5/6 دى. موږ د دې لپاره پېښې تعريفوو:

پېښه الف : يو شپږ غورځول، پېښه ب : شپږ نه غورځول کيږي ( برعکس يا مخامخ پېښه).

د غورځونو سره احتمالوالى دى:

– په هر ه ه غورځونه کې چې يو 6 غورځولشي:

$$\underbrace{\frac{1}{6} \cdot \frac{1}{6} \cdot \ldots\ldots\ldots \cdot \frac{1}{6}}_{n\ mal} = \left(\frac{1}{6}\right)^n$$

- په هره غورځونه کې چې 6 ونه غور ځول شي:

$$\underbrace{\frac{5}{6} \cdot \frac{5}{6} \cdot \ldots\ldots\ldots \cdot \frac{5}{6}}_{n\ mal} = \left(\frac{5}{6}\right)^n$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



برعکس د ،، په n –غورځولو کې، چې په هره غورځونه کې ونه غورځول شي،، په دې ډول ده چې ،، په n –غورځونو کې ټولټال یو 6 وغورځول شي،، بلکه ،، په n – غورځونو کې ټولوټال لږ تر لږه یو 6 وغورځول شي،،. موږ اوس دا پېښه E تعریفوو: په n –غورځونو کې ټولټال ( په ټولیزه توګه) لږ تر لږه یو 6 غورځوي.

برعکس یې $\overline{E}$ دی: په n –غورځونو کې په ټولیزه توګه 6 نه غورځول کیږي.

د $\overline{E}$ احامالوالی همدا اوس پیژنو : $P(\overline{E})=\left(\frac{5}{6}\right)^n$

له دې سره د E احتمالوالی دی: $P(E)=1-P(\overline{E})=1-\left(\frac{5}{6}\right)^n$

په پوښتنه کونه کې غوښتل شوي ووچې $P(E)\geq 0{,}90$ باید وي.

$1-\left(\frac{5}{6}\right)^n \geq 0{,}90$ د n عدد غوښتل کیږي( د غورځولو تعداد)

حل یې د بڼه بدلو او لوګاریم نیونې له لارې .

$$1-\left(\frac{5}{6}\right)^n \geq 0{,}90 \,|-1$$

$$\Leftrightarrow -\left(\frac{5}{6}\right)^n \geq -0{,}1 \,|\cdot(-1)$$

$$\Leftrightarrow \left(\frac{5}{6}\right)^n \leq 0{,}1 \,|\ln$$

$$\Leftrightarrow n\cdot\ln\left(\frac{5}{6}\right) \leq \ln(0{,}1) \,|:\ln\left(\frac{5}{6}\right) \approx -0{,}18 < 0 \Rightarrow$$

اړیکي $\leq$ په ځنډ کړی یا وګرځوی

$$\Leftrightarrow n \geq \frac{\ln(0{,}1)}{\ln\left(\frac{5}{6}\right)} \approx 12{,}629$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړی باید سترګی لږ تر لږه 13 – ځله و غورځوي چې د لږ تر لږه 90% اطمنان سره لږ ترلږه 6 لاس ته راوړي. بل ډول يې افاده (وېينه): زه اجازه لرم چې ز يات له زياته د 100 څخه په 10 حالتونو کې په 12 –ځله غورځونه کې 6 لاس ته را نه وړم يا ونه غورځوم.

# اوم - د تړلو پيښنو سره احتمالوالی

تړلې پيښې ( چې په يوه عمليه کې سره راغلې وي)
تر اوسه يو ګونې پيښې تر پام نيول شوې وې. پيښې سره تړل کيږي هم.
پوښتنه: په يوه مسلکي ښوونځي کې100 زده کوونکي نارينه اوښځينه دي، چې له دوي څخه 87 هسپانوي ژبه ( S) او 75 فرانسوي ژبه (F) زده کړې ، 70 په دواړو ژبو باندې واک لري ( دلته يا په دې معنا چې فرانسوي، اسپانوي ياد واړه)

ب - يو زده کوونکی نارينه يا ښځينه توکلي و ټاکل شو.

احتمالوالی وشميری، چې هغه / هغې هسپانوي يا فرانسوي زده کړې.

( دلته يا په دې معنا چې هسپانوي، فرانسوي يا دواړه)

ځواب :

الف – همداسې په ساده ډول نه سي کيدی چې د سپانوي او فرانسوي لپاره عددونه سره جمعه کړي، ځکه چې بيا به د زده کوونکو په يوه تعداد 162 = 75 + 87 راغلي وی.

دا له دې امله ناټيک دی، ځکه چې هغه نارينه اوښځينه زده کوونکي چې سپانوي اوفرانسوي يې زده کړي دوه واره ګڼل (شميرل) کيږي.

| | |
|---|---|
| 75 زده کوونکي (نارينه \ ښځينه) د فرانسوي له دوي څخه 70د اسپانوي سره، پس 5 فقط له فرانسوي سره. | 87 زده کوونکي (نارينه اوښځينه) د اسپانوي سره له دې څخه 70 د سپانوي او فرانسوي سره، پس فقط17 له سپانوي سره. |

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دوړو څخه کومه نه




فقط سپانوي — فرا نسوی او سپانوي — فقط فرانسوي

ټول نارینه او ښځینه زده کوونکي

دا 70 نارینه او ښځینه زده کوونکي د اسپانوي او فرانسوی ژبو سره په 87 سپانوي ژبو او هم په75 فرانسوي ژبو کې خوندي دي. که د نارینه او ښځینه زده کوونکو د (87) سپانوي تعداد د نارینه اوښځینه (75) فرانسوي تعداد سره جمعه یا زیات کړو، نو د اسپانوي او فرانسوي ژبو نارینه اوښځینه زده کوونکو تعداد دوه واره وګڼل یا وشمیرل شو. نو له دي امله باید 70 له زیاتون یا جمعي (162) څخه کم یا تفریق شي.

د ښځینه او نارینه زده کونکو تعداد د سپانوي یا فرانسوي سره:

$$87 + 75 - 70 = 92 \text{ bzw. } 17 + 70 + 5 = 92$$

دا په دي معنا چي، 8نارینه او ښځینه زده کوونکي په لیسه کې له دي دوه ژبو څخه کومه نه زده کوي(Spracherfüller in Sek I) .

ب – لومړی په لاندې توګه پیښي تعریفوو:

F: زده کوونکي فرانسوي لرووده — S: زده کوونکو سپانوي درلوده

احتمالوالی: $P(S \text{ oder } F) = \frac{87 + 75 - 70}{100} = 0{,}92$

د ترم بنه بدلون سره:

$$P(S \text{ oder } F) = \underbrace{\frac{87}{100}}_{P(S)} + \underbrace{\frac{75}{100}}_{P(F)} - \underbrace{\frac{70}{100}}_{P(S \text{ und } F)} = 0{,}87 + 0{,}75 - 0{,}70 = 0{,}92$$

odrد یا او und د او په معنا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې بیلګې څخه د جمعې یا زیاتون قانون پېژندل کیږي.

د جمعې یا زیاتون قانون:

که یوه پیښه E د پېښوA او B څخه رایوځای شي، چې دا سره غوڅولای هم شي، دا په دې معنا چې ګډې پیښې خوندي لرودی شي لکه په یوه یا- ترنه کې، نو باید داپه پامکې ونیل شي، چې دا ګډې پیښې نه دوه ځله په پام راوړل شي.

A او B پېښې دي او باور لري $E = A \cup B$ ( د یا – پیښه)

نو د پیښې لپاره احتمالوالی دی

$$P(E) = P(A \cup B) = P(A) + P(B) - P(A \cap B)$$

په لغاتو کې :

د یوه یا-پیښې احتمالوالی د دواړو پیښو د احتمالوالي جمعه ده، د او –پیښې په کمښت یا تفریق سره.

بیلګه:

یوه دانه ( سترګیز مکعب) دوه واره ِ غورځول کیږي. دوه پیښې کره کیږي یا منځ ته ارځي:

A : د سترګیو عدد یا ګڼ له 3 لوی دی.

B : د سترګیو عدد یو جوړه عدد یا ګڼ دی.

یوه نوې پیښه په لاندې ډول پیښیږي:

C : د سترګیو عدد له 3 لوی یا د سترګیو عدد یو جوړه عدد دی.

پیښه C د A اوB یوه د یا - ترنه ده. د P ( C ) احتمالوالی و شمیرئ.

لومړی دA اوB پیښه- ډیرئ یا - – سټ جوړوو:

A={4,5,6} ; B = {2,4,6}

د جمعې یا زیاتون قاعدې له امله

$$P(C) = P(A \cup B) = P(A) + P(B) - P(A \cap B)$$

شمیرل کیږي.

د دې لپاره د نتیجه ډیرئ ته اړکیږو

$A \cap B$. $A \cap B = \{4;6\}$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځانګړو پېښو احتمالوالي دي:

$$P(A)=\frac{1}{6}+\frac{1}{6}+\frac{1}{6}=\frac{3}{6}=\frac{1}{2}\quad P(B)=\frac{1}{6}+\frac{1}{6}+\frac{1}{6}=\frac{3}{6}=\frac{1}{2}\quad P(A\cap B)=\frac{1}{6}+\frac{1}{6}=\frac{2}{6}=\frac{1}{3}$$

له دې سره د C احتمالوالی لرو:

$$P(C)=P(A\cup B)=P(A)+P(B)-P(A\cap B)=\frac{1}{2}+\frac{1}{2}-\frac{1}{3}=1-\frac{1}{3}=\frac{3}{3}-\frac{1}{3}=\underline{\underline{\frac{2}{3}}}$$

د نتیجو ټیکاوی ساده ازمیل کېدی شي، داسې چې د $C=A\cup B$ نتیجه ډېری جوړه شي اود هغې احتمالوالی و ټاکل شي.

$$C=A\cup B=\{2;4;5;6\}\Rightarrow P(C)=P(A\cup B)=\frac{1}{6}+\frac{1}{6}+\frac{1}{6}+\frac{1}{6}=\frac{4}{6}=\underline{\underline{\frac{2}{3}}}$$

تمرین:

یوه دانه ( سترګیز مکعب) دوه واره غورځول کیږي. دوه پیښې کره کیږي منځ ته ارځي:

A : د سترګیو عدد یا ګڼ له 3 لوی دی.

B : د سترګیو عدد یو جوړه عدد یا ګڼ دی.

یوه نوې پیښه په لاندې ډول پیښیږي:

C : د سترګیو عدد له 3 لوی یا د سترګیو عدد یو جوړه عدد دی.

پیښه C د A اوB یوه د یا - تړنه ده. د P ( C ) احتمالوالی و شمیری.

بیلګه :

یوه دانه ( سترګیز مکعب) یو وار غورځول کیږي. دوه پیښې کره کیږي یا منځ ته ارځي:

A : د سترګیو عدد یا ګڼ له4 کوچنی دی.

B : د سترګیو عدد 4 یا 5 دی.

یوه نوې پیښه په لاندې ډول پیښیږي:

C : د سترګیو عدد له 4 کوچنی یا د سترګیو عدد 4 دی.

پیښه C د A اوB یوه د یا - تړنه ده.

د P ( C ) احتمالوالی و شمیری.

لومړی د A او B نتیجه- ډېری جوړوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



A = {1,2,3} ; B={4,5}

د زياتون قاعدې له مخې

$$P(C)=P(A\cup B)=P(A)+P(B)-P(A\cap B)$$

شميرل کيږي.

د دې لپاره د $A\cap B$. نتيجه ډېرى $A\cap B=\{\ \}=\varnothing$ ته اړ يو.

د يوګونو پيښنو احتمالوالى دى:

$$P(A)=\frac{1}{6}+\frac{1}{6}+\frac{1}{6}=\frac{3}{6}=\frac{1}{2}\quad P(B)=\frac{1}{6}+\frac{1}{6}=\frac{2}{6}=\frac{1}{3}\quad P(A\cap B)=P(\varnothing)=($$

له دې سره به د احتمالوالى وي:

$$P(C)=P(A\cup B)=P(A)+P(B)-P(A\cap B)=\frac{1}{2}+\frac{1}{3}-0=\frac{3}{6}+\frac{2}{6}=\underline{\frac{5}{6}}$$

ياودنه:

که $\varnothing=\{\ \}=A\cap B$ t نو باور لري $P(A\cup B)=P(A)+P(B)$.:

تمرين:

له لوب کارتو څخه چې 32 کارتې دي يو ه کارته راباسو(Skat).

دا لاندې پيښنه کوم احتمالوالى لري؟

E : راوېستلې کارتې د څېرې کارتې ده يا د پښې Kreuzkarte کارتې.

دا تراوسه پيژندل شوې د احتمالوالي شمېرنې قوانينو ټولګه:
S دې د تصادفي تجربې نتيجه ډېرۍ وي.
اول : د ټولو پېښنو E لپاره باور لري:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$0\leq P(E)\leq 1$، چې $P(\varnothing)=0$ او $P(S) = 1$ دي.
دا په دي معنا ، چې د یو ي منځ ته راتګ احتمالوالی تل د 0 او 1 ترمنځ پروت دی او کمیز یا منفي نه شي کېدی.
دویم : که، $E=\{e_1;e_2;\dots e_n\}$ وي، نو $P(E)=P(e_1)+P(e_2)+\dots+P(e_n)$ باورلري
( بیلګه دانه یا سترګیز مکعب)
دریم : د ټول A او B پیښو لپاره باور لري
$P(A\cup B)=P(A)+P(B)-P(A\cap B)$
څلورم : د ټول C پیښو لپاره باور لري: $P(\overline{C})=1-P(C)$ ( ینبي او برعکس یا مخامخ پیښي)

دتمرینونو حل (اوبی):؟؟؟؟؟؟؟؟
یوه دانه ( سترګیز مکعب) یو وار ِ غورځول کیږي. دوه پیښي کره کیږي یا منځ ته ارځي:
A : د سترګیو عدد یا ګڼ له4 لوی دی.
B : د سترګیو عدد له *1* لوی دی.
یوه نوي پیښه په لاندي ډول پیښیږي:
C : د سترګیو عدد له 4 لوی یا د سترګیو عدد ناجوړه او یا له *1* لوی دی.
پیښه C د A او B یوه د یا - ترنه ده.
د P ( C ) احتمالوالی و ټاکئ.

لومړی د A او B نتیجې جوړوو.
$A=\{5;6\}\quad B=\{3;5\}$
د جمعي قانو له مخي اوس شمېرو:
$$P(C)=P(A\cup B)=P(A)+P(B)-P(A\cap B)$$
د دي لپاره د $A\cap B$ نتیجه ډېرى یا نتیجه سټ $A\cap B=\{5\}$ ته اړتیا لرو.

د یوګونو پیښو احتمالوالی دی:
$$P(A)=\frac{1}{6}+\frac{1}{6}=\frac{2}{6}=\frac{1}{3}\quad P(B)=\frac{1}{6}+\frac{1}{6}=\frac{2}{6}=\frac{1}{3}\quad P(A\cap B)=\frac{1}{6}$$
له دي سره د C احتماوالی دی:
$$P(C)=P(A\cup B)=P(A)+P(B)-P(A\cap B)=\frac{1}{3}+\frac{1}{3}-\frac{1}{6}=\frac{2}{6}+\frac{2}{6}-\frac{1}{6}=\frac{3}{6}=\underline{\underline{\frac{1}{2}}}$$

